

# اته ويشت لنډې کيسې

ليکوال: رفيع الله علي حيدر وردګ

د کتاب نوم: اته ویشت لنډۍ کیسې

د چاپ کال: ۱۴۰۲/۳/۵-۱۳

لیـــــکوال رفیع الله علي حیدر وردګ

دیزاین: محمد کریم فیضی

د لیکوال نمبرونه:

۰۷۹۷۳۳۵۸۳۰/۰۷۳۰۴۳۲۷۶۲

که چیرې تاسې غواړې خپل کتابونه ته ډیزاین ورکړی

نو له موږ سره په تماس کې شی.... ۰۷۸٦۷۸۸٤۰۵

**یو هلک خپل ملګری مړ کړ**

یو هلک یو ملګری وو.

زیات وربا‌ندی ګران وو.

دا هلک نسیم نومیده او ملګری يې حامد نومیده.

د نسیم پلار په ایران کې وو.

نسیم یوو زوی وو دپلار او دری خورانی وی.

نسیم به خپل ملګری حامد ته د خپل زړه خبری او خپل رازونه ویل.

نسیم په حامد زیات باور لرلو.

هره ورځ به جوړه مکتب ته تلل او راتلل.

حامد به نسیم کورته بېولو.

ډیره ښه ملګرتیا يې وه.

په نسیم دغو زیات قرض وو.

او د قرض وعده يې هم رانيږدی وه.

ډیر فکر يې خراب وو ځکه چې پلار يې کور کی نشته او خلک به روپی له نسیم غواړی.

وخت تیریده .

نسیم يې خپل پلار ته زنګ وکړو .

پلار يې هم ورته ویلی وو چې سمه ده زه روپی در استوم.

دری یا څلور شپی وروسته د نسیم پلار حواله راکړی وه .

او نسیم ته يې زنګ کړی وو چې روپی مې درته ولیګی.

نسیم ډیر خوشاله شوو او مننه يې تری وکړه.

نو سبا تللو حواله يې اخيسته.

حامد ته يې وويل حامدجانه سبا ځم حواله اخلم ستاخو به چيشي په كار نه وی.

حامد ويل نه نمی دی په كار نسيمه څومره حواله يې درته راكړی.

نسيم ويل حامد جانه درې لكه د فلانكی دی او پنځوس زره د بل دی او يوو ځلويښت زره يې ماته راليګلی چې كورته سودا وكړم.

نسيم لاړو د حوالی اخيستلو پسی.

خو چې راتللو نا وخته شوو .

مور يې په ژړا انتظار كولو خو نسيم هيڅ معلومات نه كيږی.

وخت تيريده سهار شوو.

مور يې زيات ژړل او لاړه تر څو كلی كې خلک خبر كړی.

خلک يې خبر كړل ګرځی ټول ځايونه يې وكتل .

خو نسيم هيڅ معلومات نكيږی.

اخير يوو سړی اواز وكړو اې خلكو دلته راشی .

خلک چې ورغللم نسيم چا په چاقيانو وهلی او وفات دی.

خو ليک يې پر سينه ايښی.

ليكلی وو

زه خپل ملګری مړ كړم خوزما وصيت دادی چی هغه ته هيڅ هم مه وايه ځكه دا زما خپله ګنا ده چې په هر چا مې باور كولو

د نسيم مور له ژونده ووته داسی لېونی شوهاو پلار يی نا خبر وو.

د يو څو پيسو لپاره اې ظالمه

تا دخپل خوارږه ملګری مرګ څنګه وزغملو

پای

**نا خبره یتیم کیدل**

یوو هلک وو پر مور یې زیات ګران وو.

او مور به یې دا زوی زیات تشویق کولو.

هلک هم ښه هوښیار او ادب واله هلک وو.

دا هلک به هر سهار وختې تللو مکتب ته.

یوو ساعت مخکې به یې شخصي درس ویلو او دهغه وروسته رسمي وخت شروع کیدلو بیا تللو مکتب ته.

بیګا به یې مور یو څو روپې ورکړی څکه چې د هغه مور به په کار بنده وه.

او دا هلک به وختی تللو مکتب ته.

هلک ته به یې یو څو روپې ورکړی سهار به مکتب کې پری چیشی اخیستل.

خو همدا رقم هره ورځ تللو.

په هلک یې خپل مور زیاته ګرانه وه.

د مکتب څخه به یې ضرور یو چیشی ورته راوړل یا مڼی یا داسی بله میوه چې ده ته به خپلو ملګرو ورکړل او هلک به خپلی مور ته راوړل.

وخت تیریده دا سلسله همدغه شان روانه وه.

ډیر وخت وروسته بیا هماغه شان مور یې بیګا روپی ورکړی او ویده شوو.

سهار پاڅیدو مکتب ته لاړو .

مکتب رخصت شوو دا هلک هم کور ته روان وو.

د مور لپاره یې ناک راوړی وو.

خو چې کور ته راغی کور کې ژړاوی دی.

دا هلک زیات وار خطا شوو منډه یې کړه د خور نه یې پوښتنه وکړه خوری دا څه چل هله ژر کوه.

خور يې په غېږ کې ونيولو او ښکل يې کړو.

ورته يې وويل ګرانه وروړجانه مور له دنيا لاړه.

هلک چيغه وکړه او بې هوښه شوو خو هيڅ په هوش کې نه رتلو بېلاخيره هلک هم ډير سخت ناروغ شوو.

نه پوهيګم چې دا ځينی په مور وار ځنګه کوی

مـور خو سمــه پــه دنيــا جنت جنت وی

## په لوړ قد هلک مئينه انجلۍ

يوې انجلۍ کيسه کوله .

چې ما يو هلک وليدو له قد ډير لوړ او شايسته هلک وو.

زما هسې پری مينه راغله زيات مې ورته وکتل.

هغه زما په کتلو باندی دهغه خپلی حيا او پښتو پريــښوو چې ماته وګوری.

ډير ژر او تيز روان شوو او سر يې ښکته کړو.

زما نور هم خوښ شوو.

دا ډير جګ لکه چينار داسی ښکاريدو.

دا هره ورځ مکتب ته راتلو ما به دهغه ديدن کولو هسې وربـاندی مئينه شوم.

خو د اظهار څخه بيريدم او نه مې کولی شوی.

همدا شان هغه ناخبره او زه وربـاندی مئينه وم.

او زما ليک هم نه وو زده چې خط مې ورته ليکلی وای.

خو دا زړه ته سړی نه پوهيګی چې دا زړه ولی داسی څوک انتخاب کړی چې هغه ډير زيات په زحمت سړی خپلولی شی.

زما مينه لېونۍ شوه.

لیک مې نه وو زده نو مې په خوله باندی ټپې او شعرونه غزل شروع کړل.
د هغې شعرو د جملې څخه یو څو درته اوروم

**پــه چیناری ښکــلی  هلـــک بـــانـدی مئینه شـومــــه**

**خدایه هغه چینار او زه منه چې سره یو ځای شوډیر به ښه ښکاریګو**

او بل دادې

**په لوړ ښایسته هلک شومه میئنه**

**له ډیری مینی چینارونـــه اوبــه ومــه**

همداسی نور شعرونه غزل یې ویلی وو.
ویل دا هلک به چې کله مکتب رخصت شوو.
نوزما څخه نه غلت کیدو ځکه تر ټولو لوړ هلک زما معشوق وو
دا جینۍ وایې چې مینه مې سمه لېونۍ شوه نور مې صبر تمام شوو.
بله ورځ مې هلک ته وویل چې مینه درسره لرم.
خو جواب یې وو چې زه واده لرم.
ماته ډیره غوصه راغله دا هلک مې یوه کلکه څپړ ووهلو.
لاړم کورته په ژړا له ځان سره مې وویل چې که زما لیک زده وایې نن به ما د خود کشی نیت نکولو ځکه دهغه هلک په حالت به اول کې خبره وای

**خوښ کړی یې په ټول مکتب کې جګ هلک وو خدایه**

**هغه د یوې بلی خوش قیسمتی په نصیب شـــوو**

پای

**یوو هلک خپلی ترور مړ کړ.**

یو هلک چې ډیر شایسته او خوش اخلاقه وو.

دې هلک ډیر علم هم کړی وو.

دې هلک غوښتل چې په خپله خوښه واده وکړی.

خو دهغې پلار ورسره نه منله.

پلار یې ورته د ترور لور کوله خو هلک انکار کولو.

خو اخیر یې هلک راضي کړو چې دخپل ترور لور وکړی.

دې هلک د خپلی ترور دلور سره واده وکړو خو مینه یې بیخی کمه ورسره وه.

هغه یې راناوی کړه.

خو دهلک دهغې سره مینه نه وه ژوند یې هم مزه نکړه.

خو ترور یې پدې هلک تعویذ وکړو چې دجنۍ سره یې مینه پیداشی.

خو هلک تر هغې زیات دهغې څخه بیزار شوو.

وخت تیریده .

هلک بیخی زیات له ژوند څخه تنګ شوو.

دا زړه داسی دی چې یوار له چا څخه بیزار شی بیا یې په هیڅ صورت کې نه غواړی.

خو وخت تیریده.

دې هلک اخیر ځان وژنه وکړه

چې دزړه دې خوښه نه وی زما جانانه.

هغه کس په هیڅ صورت کې یار کوه مــه

پآی

**یوو سړی د نن سبا په تمع مړشوو.**

یــو سړی چې هیڅوک نه پوهیدل چې چاته انتظار کوی.

او هغه سړی دخپل زړه خبره چاته کوله هم نه.

صرف دومره یې ویل چې نن راځی زما دزړه قرار.

خو چې بیا به مې ترې پوښتنه وکړه ویل به یې سبا راځی .

ما ترې پوښتنه وکړه چې ته چاته انتظار کوی.

هغه ویل یوو نامعلوم کس دی په راتلو به یې زما ژوند لکه جنت شی او زما غمونه به ختم شی.

ما ویل ښا دومره خو راته ووایه چې انجلۍ ده که هلک.

هغه ویل هیله کوم دومره نه پوهیګم .

خو شاهد سبا راشی.

اودس یې وکړو لاړو مسجد ته دننه شوو.

ډیر خوشاله وو ویل زه چې پوهیګم سبا راځی زما دزړه قرار.

خو وخت تیریده هیڅوک رانغلل .

او دې سړی یې انتظار کولو.

ټول خلکو ورته لېونی ویلو چې دا لېونۍ دی.

خو چې هغه سړی ته به مې وویل چې خلک وایې چې ته لېوني یې.

دې سړی به ویل دخلکو خولی هیڅکله نه بندیږی خو زه لېونی نه یم.

دې سړی په یخ ژمې کې په صحرا کې انتظار کولو چې نن راځی .

خلکو ډیری زاری ورته وکړی چې راځه .

خو سړی ویل تاسو لاړ شی زه د هغه سره یوځای درځم .

خلکو ویل د چاسره.

هغه ویل هیله کوم هغه نامعلوم کس دی .

**دیــو چا په نامعلوم انتظار باندی لاړمــه تبا شوم**

**هغــه رانــه غلو او زه ورپسی ړنــګ شوم**

**یوه انجلۍ دچا په انتظار کې اخیر واده شوه.**

زه به هره ورځ تللم مکتب ته.

یــوه ورځ مې یوه انجلۍ ولیده چې په کالیو مینځلو اخته وه.

ما غوښتل چې ورسره خبری وکړم خو دومره جرات راسره نه وو.

نو فکر وکړو چې د اوبو دڅښلو به بهانه ورشم ورغللم ما ویل لږی اوبه خو راکړه دهغې سره ګیلاسونه هم وو نو یې مخ پټ کړو او ګیلاس یې راکړو راته یې ډک نکړو ما ویل چې راته ډک به یې کړی خو هغې داسی ونکړل.

خو خیر زما خوښه شوه زړه مې داسی راته بل شان خبری راته کولی.

بله ورځ هغه دکالیو منځلو ځای ته غټ فرش راوړی وو.

نو یې نشوای وړلی.

زه ورغللم ما ویل ماته یې پریږدی زه به یې درسره ورسوم.

کتابونه مې هغې ته ورکړل ما لاسی ګاډی روانه کړه.

هغه له شاه راپسی روانه وه او زه مخکی.

کور یې رانیږدی شوو راته یې ویل مننه نور یې زه بیاییم.

ما هم تری کتابونه واخیستل روان شوم کور ته.

داسی خوږه خوږه راباندی ولګیده.

نه پوهیګم چې ولی داسی ژر سړی مین شی.

وخت تیریده .

دې جنۍ یوه ورځ راته ویل چې ګرانه خوښ مې دزړه یې خو زه دپلار سره دوکه نکوم .

ماویل ښه زه څه وکړم ماته لار  راوښایه.

راته یې ویل چې ته زما ولور اماده کړه إن شاء الله پلار مې زما په خوښه کې هیڅ هم نه وایی.

ماویل سمه ده زه به لاړ شم خو که ته دبل چا شوی.

هغې ویل زه دې تر کیامته انتظار کوم.

ما تری خدای پامانی واخیسته هغې راپسی زیات وژړل.

زه لاړم ایران ته....

دوولس کاله وخت مې تیر کړو دری کاله مې کار وکړو بیا د یوه یوه ایرانی په مرګ زه ونیول شوم خو ما هغه وژلی نه وو.

بیا چې راغلم رنګ خراب هرڅه له منځه تللی وو هغه یې واده کړی وه.

بیرته مې زړه تنګ شوو بیرته لاړم ایران ته........

**بس قسمت وو کنې یاره انتظار مې ډیر دی درته کړی**

**ته ورک په بل وطن شوی او زه لاړم دبل چا شــوم**

پای

## د مــامــا پــه لــور مين هــلــک

د مور سره مې لاړم دماما کره.

د ماما کور ته ورسیدو.

ټولو زما دمور او زما سره ستړی مشی وکړی.

چای یې راوړو ښه خوند یې وکړو.

بیا زه بیرون ته لاړم.

بیرون زما   دماما لور له څاه څخه اوبه وړلی.

نو یوو بوشکه ډیره غټه وه.

زه ورغللم هغه مې تر کوره پوری ورسره یوړله.

هغې راڅخه مننه وکړه.

زه بیرون بیا لاړم هلته خلکو په کرینګ باندی خاوره باروله هغې ته کیناستم.

بیا لږ وخت وروسته لاړم د ماما کور ته.

هغې راباندی غږ وکړو چې هاغه کوټې ته لاړ شه زه ډوډی دروړم.

زه هلته لاړم ډوډی راوړه.

راته ویل چیری تللی وی ټولو ډوډی وخوړه.

ما ویل خیر پروا نکوی زه ډیر وږی هم نه یم چای مو پس وڅښو.

ښه سمه ده.

ډوډی راته کیښوده او  هغه د کړکۍ په پاکولو اخته شوه.

ماته یې ویل که کوم شی کم شول ماته وایه.

ماویل سمه ده داهم ډیر دی.

هغه لاړه لږ وخت وروسته یې چای راوړو.

چاې مو وڅښو زه او مور نور بیرته خپل کور ته راتلو.

هغې جنۍ ته یې مور ویل چې احمد ته لږ میوه ورکړه چې په لاره یې خوری.

هغې راته دسمال کې میوه راکړه.

ما هم په جیب کې واچول.

کور ته راورسیدو.

لاړم بیرون ته چې هغه دسمال ته مې پام شوو.

هغه مې راواخیست.

میوه او یو لیک پکی وو.

لیک مې چې راواخیست لیکلی وو.

مغروره کیږه مـه شایسته نه یې خو زما خوښ شوی یې.

ستا زه خوښه یم.

جواب د مور نمبر مې چې مسقال درکړو زنګ وکړه.

زما خو زیاته خوښیده خو ما ویل چې هسی نه خپلوی مو خرابه شی.

خو ښه وو چې هغې راته لیک ولیګه.

مسقال راغی نو می ژر زنګ ورته وکړو ګفه مې ورسره وکړه.

وخت تیریده.

زه لاړم پوهنتون ته هلته موبایل زما ورک شوو.

خو چې دوی میاشتی وروسته کورته راتلم.

نو مې ملګری راته ویل چې واده یې درته کړی.

زما زړه ډیر بد شوو.

لاړم کورته زما ماما خیل ټول راغلی وو.

هغه جنۍ هم راغلی وه.

ماته ډیر بد بد کتل.

خو موقع يې کتله زه لاړم بلی کوټې ته لمونځ مې کولو هغه هم راپسی راغله.

ما لمونځ وکړو هغې سمدلاسه ویل اې بی عقله اې دوکه بازه اې چم بازه اې حیوانه.

ما ویل څه څه ولی..

هغې ویل ولی دومره ژر خلک درنه هیر شی.

نو ما ورته کیسه ټوله وکړه.

خو هغې په ژړا شروع وکړه ماته ژړا راغله

د وعدې دې خلاف شوی نه یم ګرانی

خو قسمت راسره داسی لوبه وکړه

پای

## دا هم رښتیا شوه

د ځواني په موسم کې وم.

هر وخت او هرځای دخپلو ملګرو سره ګف او چکر وهل.

نــو ملګرو سره مې ښه ساعت تیر وو.

خو چې کله غریب شوم.

روپی خلاصی شوی.

ډیر زور یې راکولو ډیر به غریو به ونیولم.

هغوی به زما څخه په پټه تلل چکر ته.

ما به چې ورته وویل چې چیری ځی ملګرو.

هغوي به ویل چیری نه هسی لږ کار مو دی.

ما ویل سمه ده.

وخت تیریده له یارانو مې پاک زړه صبر شولو او ورسره مې ختمه کړه.

یو څو میاشتی مې ډیر زیات ژوند خراب وو ځکه یاران راباندی ډیر ګران وو خو هغه داسی شول.

دې وخت کې ماته هره ورځ ماښام خوب کې یوه جنۍ راتله چې زه ستا ملګری یم هیڅ فکر مکوه.

زه به سهار زیات خوشاله وم.

هر ماښام به مې دا خوب لیدلو خو نه پوهیګم چې ولی دا به رشتیا شی کنه.

وخت تیریده.

بل سهار تللم خپل کار ته چې په لاره جنۍ تیریده نو کاغذ ترې ولویدا.

هغه چې لږ مخکې ولاړه نو ما هغه کاغذ راواخیست ژر مې وکتلو.

نو لیکلی وو سلام سنګه یې خوبونه دې رښتیا کیږی ډیر فکر مکوه ګرانه.

دا لیک مې چې ولوست نو فکرونو کې ډوب شوم.

چې دا څنګه کیسه ده خوب هم رښتیا کیږی.

ډیر حیران شوم خو زه همدلته په خیالی نړۍ کې ورک شوم

چې مې خوب هم په رښتیا شوو

خو یاران وو بیوفا وفا یې نکـړه

پای

**یوازی توب سخت دی خو مزه کوی**

ډیری ملګرتیاوی او ډیری خپلوی مې وکړی.

خو مطلب په هرځای کې شتون لرلو.

ډیر تنګ شوم له دې ژوند څخه.

ځکه یوازی توب ډیر سخت وی .

خلک به لاس ترغاړی دخپل ملګرو سره په کلی کې ګرځیدل.

مابه چې ځان ته وکتل ځان راته ډیر یوازی ښکاریدو.

او د مطلب یاری او ملګری او خپلوی څخه مې بیا نفرت کیدو.

وخت تیریده زه هم له یوازیتوب سره عاددت شوم.

خو زیات خوند وو په یوازیتوب کې ځکه چې دچا ګیله او دچا څخه ګیله نه وه.

نـو زه په یوازیتوب کې داسی عاددت شوم چې دهیچا سره مې خبری نکولی یوازی او یوازی به چکر ته تللم او یوازی به ګرځیدم.

بله ورځ لاړم دخپل کلی څخه بل کلی ته.

هغه وخت که رښتیا ووایم چاته مې سلام هم نه اچوو.

لاړم یوه دوکان ته غوښتل مې چې داختر لپاره کالی او لږ نور شیان واخلم.

نو یوه دوکان ته لاړم.

ور دننه شوم .

خو دوکان کې ښځی هم وی.

زه هم ورغللم په دوکاندار مې غږ وکړو چې زما کار دی ماته سودا راکړه.

یوې جنۍ ویل ولی داسی بېړه ده.

ما غږ ونکړو.

بیا هغې ویل چیشی اخلی.

زه دومره جورئت ته حیران شوم بیا مې جواب ورنکړو.

بیا یې غږ وکړو آیا تاسو د غوږو مشکل لری.

ما ویل نه ولی .

ویل ولی غږ نکوی .

ماویل نه غواړم چې چاته د ځینو خبرو جواب ورکړم.

هغې وخندل هههههههههه.

ښه سمه ده کوم رنګ کالی دې خوښیګی ماویل تور .

هغې ویل زما په خوښه یې نه اخلی .

ماویل ولی نه خو چې سم انتخاب وکړی.

هغې ویل تاسو ما پریږدی إن شاء الله چې سم انتخاب درته کوم.

هغې راته کالی واخیستل.

زما هم خوښ شول.

ما له جیب څخه روپۍ راواخیستی خو هغې ویل نه ما انتخاب کړب روپی هم زه ورکوم.

ما ډیر ورته وویل خو نې منله.

راته یې ویل ځان ډیر یوازی مه حسابوه زه شته یم.

زما زیات زړه ښه شوو.

خو چې خبر شوم چې هغه جنۍ د سرطان په مرض اخته ده .

دخپل قسمت څخه زیات خفه شوم

هی هی هی ژونده

هرڅه وو مطلبی او بی مطلبه خلک نه وو.

ما یوو جانان پیداکړو بی مطلبه هغه مړ شوو

## د زوی سره ظلم

په ایران کې یوو ځوان زما سره په اطاق کې وو.

بیایې دیو نفر سره کار کړی.

بیا یې ماته ویل چې وروركه سبا خو زما سره لاړ شه زما حساب له هغه نفر واخله.

ما ورته ویل ولې ته یې نشی کولولی.

هغه ویل نه وروركه .

ما ویل سمه ده .

خو ستا حساب زده نه دی که څه چل دی .

هغه ویل هوو زما حساب لیک داشیان مې نه دی زده.

ماویل ولی دومره درس خو به دې ویلی وو چې خپل حساب دې کولی شوای.

هغه ویل څه به درته ووایم دا زما دپلار دلاسه.

ماویل ولی پلار دې څه درسره کړی.

هغه ویل زه ماشوم وم زه نه پوهیدم خو مکتب ته مې زړه کیدلو زما ملګری به تلل خو ماته مې پلار ویل چې ولاكه انجنیر او یا معلم شی خپل میړی دی ساته.

ما ورته ویل ښا دا رقم پلار لری.

هغه ویل هوو عمر مې ټول په میړو کې تیر کړو اوس چې ځوان شوم مسافر شوم دلته د هر چا احتیاج یم.

ماورته ویل وروره هیڅ غم یې مکوه چې زه دلته شته یم ترهغې زه ستا په خدمت کې یم.

هغې رانه مننه وکړه زیات خوشاله شوو.

خو هغې ویل چې وروره دلته خو به ته راسره کمک وکړی.

خو غټ مشکل دادی چې ماته څوک واده نه راکوی.

ما ویل ولی یې نه درکوی.

هغه ویل خلک هیڅ ملامت نه دی ځکه زما دومره حساب نه دی زده چې روپی شمار کړم.

نو دا ځوان په ژړا شوو

ماشـــوم وو پــه خپـل ژونــد نــه پــوهــیـدا

چې پوه شوو نو غټ ظلم یې پلار ورسره کړی وو

پای

**د مور د زړه توټه**

یــو هلک چې په دې لنډ وخت کې د امریکایې او نورو طالمانو دلاسه خپل ژوند دلاسه ورکړو.

دا هلک تقریباً د لسو کالو به وو.

ماشومتوب دی دې هلک بم پیدا کړی.

نو یې له کوره ورته لرګی راوړی اور یې ورته بل کړی.

اوریې بل کړی نو یې هغه بن پکی اچولی.

هغه چې څو دا هلک منډه تری اخلی هغه بم چاودلی.

هلک زخمی شوی سخت زخمی دی.

نو یې منډه کړی کور ته تر دروازی رسیدلی.

خو په دروازه کې لویدلی.

نـو یې پلار ورته راغلی ژر یې موټر ته اچولی پلار او مور یې ورسره دی په موټر کې

پلار یې دومره وارخطا موټر چلولو چې اخیر یې چپه کړو د هلک مور هم زخمی شوه.

او هلک هم ساه ورکړه.

مور او پلار یې داسی لېونیان شوی وو چې چابه ولیدل نو بیا یې خپله ژړا نشوای کنترولولی.

دهلک د پلار همدغه یوو زوی وو بس خلاص.

دا ځینی بی عقلان وایې امریکا مو دوطن د جوړولو لپاره وه راغلی.

دې کفر هیڅ د جوړولوفلان نلرلو بس صرف د افغانیت او اسلامیت یې ړنګولو

پای

**د غربت د لاسه مینه هم لاړله تبا شوه**

یــوه جنۍ زما په ماشومتوب کې زیاته خوښیدله.

بیا پری مین شوم هغه هم پرما میئنه شوه.

اوله مینه لږ سخته وه ځکه ما دومره جورئت نلرلو چې دهغې سره زیاتی خبری وکړم.

خو په زړه کې له ځانه او جهانه زیاته ګرانه وه.

هغې هم زما دخوشالی لپاره ډیره هڅه کوله.

مینه ورځ تر بلی زیاتیده.

ژوند هم کلیوال دیدن مو ډیر سره کیدلو.

یــوه ورځ هغه دخپل پلار سره فصل ته روانه وه.

زه هم په فصل کې وم غوا ته مې واښه وړل.

دامې چې ولیده نــو مې لاس ورته د سلام په اشاره وښوراوا.

هغې مخ بلی خواته واړو  وو.

زه زیات خفه شوم نو مې چیغه وکړه اې اې

هغې را ونه کتل زه زیات خفه شوم.

ژر مې واښه ټول کړل لاړم کورته.

کور ته راورسیدم واښه مې کیښول.

لاړم زیات فکر مې خراب وو.

زما به چې فکر خراب شوو نو حوصله مې دلاسه ورکوله.

نو لاړم تر څو مې فکر سم کړم کوټې ته پریوتم اخیر ویده شوی وم.

چې پاڅیدم دوولس بجی وی.

خو فکر مې هغسی خراب وو.

لاړم بیرون ته چې په بمبه باندی هغې کالی مینځل.

زه ورغللم شاخوا مې وکتل یوه کلکه ځپیړ مې ورکړه هغه را پاڅیده تر هغې یې زیاته کلکه ځپیړ ماته راکړه.

ویل ولی دې ووهلم

ما ویل هغه فصل کې چې روانه وی ولی دې غږ نه کولو.

نویې یوه بله ځپیړ هم ووهلم .

ویل بی عقله زما پلار دی نه لیدلو که هغه لیدلی وای ته به هم سم شوی وای او زه هم .

ما تری ښښنه وغوښته.

هغې راته ویل ته ښښنه مه غواړه ښښنه باید زه وغواړم .

ما ترې مننه وکړه ورته مې ویل چې ولی تللی وای.

هغې ویل دپلار سره مې بانجان کیښودل.

ما ویل ښه سمه ده.

وخت تیریده.

دا جنۍ یې واده کوله نو ما خپل پلار ته وویل چې زما دا خوښه ده.

هغې هم خپل پلار ته ویلی وو چې زما دا هلک خوښ دی.

خو هغې زیات ولور غوښتو.

زما پلار ماته غوصه شوو راته یې ویل .

چې ته زما غربت او قرضداری نه وینی چې په اته لکه افغانی واده کوی.

همداسی ډیری خبری راته وکړی

ما هغې ته کتل چې واده یې کړه

تاسو ووایاست بیا به ژوند څنګه وکړم دادې اوس راڅخه نشه یې جوړ شوو.دغربت دلاسه مې هرڅه دلاسه ورکړل لویه خدایه

هغـه کـه ژونـد وو او کـه مـینــه او یـــاران وو

**په هدیره کې په مزار میئنه انجلۍ**

زه به هره ورځ تللم مکتب ته.

زما لاره په هدیره وه.

هرسهار به تللم مکتب ته خو دې هدیره کې ما هر وخت یوه انجلۍ لیدله.

زه به سخت وډار شوم.

ما فکر کولو چې دا پیرۍ یا بله بلا ده.

مابه ترې منډی کړی.

دې انجلۍ ځان زیات پټ کړی وو تور حجاب اوپر سترګو یې جالۍ خوره وه خو هیڅ ځای هم لوڅ نه وو پرېښی.

دې وخت کې زما عمر 12کاله وو

بل سهار بیا تللم چې هغه انجلۍ بیا هغه رقم پټه او تور حجاب یې وو.

خو دا وار چې مې منډه کړه خو منډی ته یې پریـــنښوم راتـه یې ویل ځای پرځای ودریږه.

زه له ډاره ودریدم جنۍ راغله زما زړه داسې درزا کوله.

چې رانیږدی شوه زه بی هوشه چې په هوش راغلم جنۍ له مخ حجاب لیری کړی وو.

سترګی یې ډیری سرې وی.

ماته یې ویل ګرانه ورورہ ته ولی زما څخه هر وخت منډی وهی.

ماویل خوری ما پرتا د پیرۍ یا بلی بلا ګومان کړی وو.

خو ته انسان یې او ته ولی هر وخت په هدیره کې وی خوری.

او خوری ما پریږده ستا سترګی ولی سرې دی زه ډاریګم.

هغې ویل نه ورورہ هیله کوم مـه ډاریګه سترګی مې لږ خوګیګی دا ځکه سرې دی.

ما ویل سمه ده زما د مکتب نا وخته کیږی.

ویل سمه ده ګرانه ورورہ درس دې وایه کوښښ کوه.

ما ویل سمه ده خوری .

لاړم مکتب ته استاذ راته ویل ګلابه رنګ دې ولی ژیړ دی.

ما ویل نه پوهیګم استاذه.

استاذ راته ویل ګلابه راته ووایه ناروغ خو به نه وی.

ماویل نه استاذه نه یم ناروغ.

استاذ راته ویل لاړ شه کور ته استراحت وکړه.

ماویل سمه ده استاذه .

کورته راغلم مور راته ویل زویه ولی دې رنګ ژیړ دی او ولی له مکتب څخه وختی راغللی.

ماویل موری لږ ناروغ یم.

مور مې زیاته خفه شوه .

سبا سهار جوړ او روغ شوم.

بیا مکتب ته روان شوم چې هغه جنۍ بیا په هدیره کې وه.

ماته یې اواز وکړو ویل دلته راشه ورورہ .

زه ورغللم اول مې تری پوښتنه وکړه .

چې خوری ته دلته چیشی کوی په هدیره کې.

راته یې ویل ته ډیر لېواله یې چې زما په حال خبر شی.

ما ویل هوو خوری.

ویل یې دا مزار وینی چې ورته ومې کتل شایسته ګلان وربالندی وو.

ما ویل هوو شایسته مزار دی.

هغې ویل دا هلک هم داسی شایسته اخلاق او شایسته ځوانی درلوده.

په دې هلک زه میئنه شوی وم ځکه دې زموږ سره زیات کمک کولو.

خو اظهار مې ورته ونکړو .

خو وخت داسی شوو چې هغه وفات شوو او زه يې دمزار سره په ژړا ورځی او شپی تیروم.

ما ویل خوری تا ته خپلوان څه نه وايې .

هغی ویل زما کورکې نور څوک نشته یوه مور لرم.

ماویل د ډوډی شیان له کومه کوی .

هغی ویل خلک يې رالیږی

مینه مــې په ژوند تر سره نشــوه

اوس به مینه دهغی د مزار سره کومه

□پای□

**د خور د ورور سره مینه**

دیوی جنۍ یوو ورور وو ډیر وربانډی ګران وو.

تر خور يې کشر هم وو.

دا له موره یوو زوی او یوه لور وو.

یعنی خور او ورور وو.

خور يې واده کړی وه د خور يې دوه زامن هم وو.

خور به يې چې کله دپلار کورته راغله .

نو دې ورور به يې دهغی زامن وهل او دخور سره يې هيڅ مينه نه کوله.

وخت تیریده.

خوريې سخته ناروغه شوه.

موريې ورته ویل ورشه پوښتنه يې وکړه.

خودې هلک ویل پریږده يې چې هسی تری خلاص شم .

مور يې ورته غوصه شوه چې ولی داسی وايی.

دې هلک له مور سره هم جوابونه شروع کړل.

دې هلک پلار ډیر مخکی وفات شوی وو.

مور يې ورته زنګ وکړو چې لوری زه خو نشم درتللای ته راشه چې لږ دې وویڼم.

هغه راغله ناروغی لږ خرابه کړی وه.

خو ورور يې داسی خبر ورته وکړه چې هغه زياته خفه شوه.

ورته يې ویلی وو چې ما خو ویل چې مړه به شی خو ته جوړه شوی يې.

خور يې زياته خفه شوه .

وخت تیریده .

دا هلک په ډیری سختی ناروغی اخته شوو.

کور کې چې کومې روپۍ وی هغه خلاصی شوی.

او چا ورسره قرض نکړو.

خور یې وربانډی زیاته خفه وه.

بله ورځ یې خور راغله.

خپل طلایې او داسی نور شیان یې راوړی وو.

مور او هغه هلک وو چې خور یې مورته یې ویل چې مور ما درته دغه شیان راوړی دا خرڅ کړی او زما د ورور علاج وربانډی وکړی.

خو یوه هیله کوم چې هیڅوک هم خبر نکړی.

زه به مې خاوند ته ووایم چې رانه ورک شول.

□پای□

**یو هلک په هیچا ندی مین خو مین شوی**

زه به هره ورځ تللم ځنګل ته.

لرګی به مې راوړل خو ما هره ورځ یو هلک لیدلو چې په دې ځنګل کې به وو خو چې زه به وران شوم هغه به هم له هغه ځای څخه روان شوم.

خونه پوهیګم چې ولی داسی کوی.

کورته راغلم مور ته مې کیسه وکړه.

مور مې راته ویل چې نور دې ځنګل ته مـه ځه .

ما ویل ولی موری .

مور مې ویل داسی نه چی دا بله بلا وی.

ماویل سمـه ده مــوری.

خو زما زړه صبر نکولو بیا لاړم .

هلک پر هغه ځای ناست دی په کتابچه کې څه لیکی.

زه وربآندی دشا دخوا راتاو شوم.

خو دا وار مې هلک سره ګفه وکړه.

ما ویل ته ولی هر وخت په ځنګل کې وی.

هغه ویل هسی ښکارلپاره راځم.

ماویل ته دا ستا کتابچه راکړه چې څه دې پکی لیکلی.

کتابچه یې راکړه خو چې ومې کتله ټول یې پکی شعرونه لیکلی وو اول شعر یې دا وو.

**یو درد دی یوه مینه ده په زړه کې یې لرمه لویه خدایه.**

**هیڅ نه یمه خبر چې داڅوک ده او داولی زما پر زړه ده.**

همدغه شان ډیر شعرونه یې لیکلی وو.

ما ورته وويل ښه ته ولی هر وخت په ځنګل کې وی.

راته یې ویل هیڅ نه پوهیګم نه جانو لرم او نه په چا مین یم.

خوپه زړه کې مې یوه لېوني مینه ده چې هیڅ ځای مې زړه قرار نکوی.

خو چې دې  ځنګل ته راشم ښه شم.

خو داسی وی لکه چې په دې ځنګل کې ځوک راسره وینی دا ځنګل مې داسی دی که کور .

یـوه مینه ده نا اشنا مې زړه ته راغله.

زه غریب یې په یو لوی یوازیتوب اخته کړم

پای

**یوسړې د ځپل اولاد   دلاسه هرڅه وکړل**

دا سړی د ډیر غربت دلاسه بیخی زیات تنګ وو.

هیڅ کار نه ورته پیداکیدو.

او پنځه لورانی یې وی چې دهغی په غم کې بیخی زیات خفه وو.

ما ترې پوښتنه وکړه ته ولی داسی غمجن یې.

هغه راته ویل چې زه له ژونده زیات تنګ یم.

ما ویل ولی ولی یارو.

هغه ویل یوه میاشت کیږی چې په کار پسی ګرځم هیڅ کار نه پیداکیږی کور کې مې لورانی دی هغه رانه ډوډی غواړی داسی یم په مرګ راضی یم.

ما ورته ویل همت دلاسه مه ورکوه کوښښ وکړه إن شاء الله پاک به هرڅه آسانه کړی.

هغه راځخه ولاړی .

زما ورباندی زیات فکر خراب شوو خو څه توان مې نه وو.

وخت تیریده.

بله ورځ خبر شوم  چې دې سړی غلا کړی.

داسړی حکومت نیولی وو.

ډیر یې وهلی وو.

بیا یې راخوشی کړی وو.

بیا ما ولیدا.

ورته و مې وویل چې ولی دې داسی کار وکړو.

هغه راته ویل ستا زامن یا لورانی شته.

ماویل نه تر اوسه مې واده ندی کړی.

هغه راته ویل هغه وخت به زما حالت درمعلوم شی چې واده وکړی او اولاد دې پیدا شی.

ما ورته هیڅ ونه ویل.

هغه بیا ویل.

زه چې کور ته لاړ شم لورانی مې ډوډی غواړی خو زما سره هیڅ نشته چې ډوډی ورته پیداکړم.

ماورته زیات زړه بد شوو.

دا زمـا ښـنګـه نـصیـب وو لویـه خــدایـه

نه مې څوک کړله خوشاله او نه زه شومه خوشاله

پای

**یوو هلک دمینی دلاسه دخپل کوره پردی شوو**

زه ماشوم وم.

د ماشومتوب موسم زیات خوندور وو.

نه غم او نه دچا په کیسه کې وم.

بیا رالوی شوم.

مکتب مې شروع کړو زیات خوند یې راکولو مکتب.

ښه درسونه مې زده کیدل.

یوه ورځ زموږ کره یوه میلمنه راغلی وه.

زیاته شایسته او خوش اخلاقه وه.

خو زما زیاته خوښه شوه.

داجنۍ زما د مور د خور لور وه.

ډیری شپې زموږ کره تیری کړی.

ما ورته په ډیر زحمت د مینی اظهار وکړو.

خو هغی هم د مینی اظهار قبول کړو.

خو هغې یو شرط په ما کیښود چې زما هرڅه ته ضرورت وو نو ته به یې راپیداکوی.

ما ویل سمه ده ضرور یې کوم.

هغه هم لاړه زما ورپسی زړه ټوټی ټوټی شوو.

هغه زما کلیواله هم کیده.

بله ورځ هغې راته ویل چې اختر ته به کالی راته کوی.

ما ورته ویل چې سمه ده ګرانی.

خو په زړه کې مې ویل چې دا پسی به له کومه کوم.

فکر مې وکړو چې له کوره روپۍ  غلا کړم.
نو لاړم کور ته روپۍ مې غلا کړی .
لاړم هغې جنۍ ته مې روپی ورکړی زیاته خوشاله شوه.

اختر تیر شوو زما کور کې خلک پوه شول چې روپۍ ورکې دی.
نو ماته یې ویل چې روپۍ تا غلا کړی.
ماورته ویل چې ما ندی غلا کړی.
خیر دا وار  راباندی پوه نشول.
وخت تیریده.
دهغی دورور  واده وو ماته یې ویل چې کالی به راته اخلی.
ما ورته څه ونه ویل.
هغی راته ویل اخلی کنه اخلی.
ماویل هوو اخلم یې.
بیا مې دغلا نیت وکړو .
کور ته لاړم روپی مې راخیستی تره یا کاکا راباندی راغی.
اوس نو ګیر شوم.
تره یا کاکا مې زه له کوره پسی واخیستم.
نو زه ورغللم هغې جنۍ ته .
کیسه مې ټوله ورته وکړه.
راته یې ویل ورځه ورځه غلاګنه.

زیات افسوس راغی.
نو ما هم نیت وکړو چې له وطن څخه لاړ شم .

ستا د مینی دلاسه زه لاړم مسافر شوم

دا ستـــا میـــنــه وه کــه زمـا سره لوی ظلـم

□پای□

**یو هلک په څپله مور پسی نشه یې شوو.**

زما مور پر ما زیاته گرانه وه.

د مور په قدر او ارزښت یوو    یوو انسان پوهیگی.

ډیر کسان یې هیڅ په کیسه کې نه دی.

خو هغه وخت به ارمان وکړی چې هغه له دنیا لاړه شی.

زما مور به هر وخت زما سره په مینه او محبت خبری کولی.

ما یې هم دهغې غوښتنی منلی.

بس بیخی خوندور ژوند وو.

له کور څخه مې بیرون ته زړه نه کیدولو.

خو اوس چې هغه له دنیا لاړه ژوند خراب فکر خراب دنیا خرابه کور زندان هر څه لاړل تبا شول.

اوس چې کور ته لاړ شم نو مې زړه زیات درد کوی خو ژړا په خپل زړه کې ساتم.

غم یې پټ لمانځم.

اوس چې سهار وختی له کوره ووځم نو ماښام راځم دا شپه چې کور کوم نو هیڅ خوب مې نه وی بس ټوله شپه ژړا مړی مړی اوښکی او یوه پټه ژړا کوم .

بیخی راته سخت شوو ژوند .

شاعری مې شروع کړه.

چې دهغې دجملې یو څو شعرونه دلته هم درته وایم.

اول شعر

**چــې ژوند وی نـو دمـور سره دې وی خــدایــه.**

**بې موره ژوند مې پر دښمن هم نـه پیرزو کیږی.**

دوهم شعر

**چې ته تللی یې زما ګرانې مورجانی .**

**زه له هغې ورځ تاپسی رنځور شوم.**

دې شعرونو سره به مې زړه لږ قرار شوو همدغه شان زیات شعرونه او غزل مې ولیکل

خو په دې هم نور چاره نه کیده.

نسوار مې شروع کړل.

په نسوارو پسی سګریت

په سګریتو پسی چرس او د ژوند سره خدای پامانی

خدایه وساتی د هر چا مور ورته ته

مور چې نه وی نو دا ژوند بیا څه معنا

**د عسکری مینـــتوب؟**

زمـا پـه غـزنـی کـې وظـیفـه وه.

د مـیـاشـتـی یـې لـس زره افـغـانـئ راکـولـی.

زمـا وظـیفـه د مـوټـر تـلاشـی کـول وو.

سـهـار لـه اتـو بـجـو څـخـه شروع تر مازدیگر پوری.

خــو یـو موټر وو چې هره ورځ به ما لیدلو او له موټروان څخه به مې تلاشی اخیسته.

خو دا وار وربانډی شکی شوم.

موټر مې ودراوه.

موټروان مې رابنکته کړو.

دشا په سیټ کې دری ښځې وی.

دهغوی څخه مې په پښتنی سره وویل چې تـاسو هم رابنکته شی.

هغوی هم رابنکته شوی.

یوی جنئ له مخ څخه حجاب لیری کړو.

ما چې ماسی ورته وکتل خو د شایستو شایسته وه.

موټر مې تلاشی کړو خو هیڅ پکی نه وو.

ما تری ببنښه وغوښته چې په تکلیف مو کړی بخشه کوی.

هغوی ویل هیڅ مشکل نلری دا خو ستاسو وظیفه ده.

موټر ته چې پورته کیدل هغې جنئ راته پسکوټ راکړو ویل دا واخله.

پسکوټ مې واخیست خو چې ومې کتل یو لیک یې تری تاو کړی.

لیک مې چې وکتلو لیکلی وو.

ډیر شایسته خو تر ما زیات نه یې شایسته خو زه پر تا میئنه شوی یم.

او جواب به زما نمبر ته راکړی.

ما هم هیڅ فکر ونکړو .

نو مې مسیج ورته وکړو.

هغی هم جواب راکړو ډیره ګفه مې ورسره وکړه.

خو ځان یې نه معرفی کولو.

دا موټړ به نو ما نور نه تلاشی کولو.

چې رابه غله سلام به یې راته وکړو او ما یې هم تلاشی نه اخیسته.

مینه لېونی شوه.

ورځ تر بلی په زیاتیدو وه.

ما ورته یوه تحفه واخیسته.

بله ورځ چې راغله دا تحفه مې ورکړه هغی مننه وکړه زیاته خوشاله شوه.

پر ما بیخی زیاته ګرانه وه.

وخت تیریده.

ډیر وخت تیر شوو چې په دې لاره رانه غله.

تلفن یې هم خاموش وو.

خو زما فکر پسی زیات خراب وو.

هیڅ خوب نه راتله همدی ته انتظار وم چې نن به راځی سبا به راځی.

زما د رخصت وخت هم شوو.

خو ما خپلی رخصتی ونکړی همدلته په وظیفه کې پاتی شوم.

له کوره یې راته زنګونه کړل چې ولی رانه غلی.

ما ورته ویل چې بیا به په بل وار رخصتی کې درشم د رخصت ورځی به هم زیاتی شی.

خو هغوی خبر نه وو چې زه چاته انتظار کوم.

هر ساعت د هغی نمبر ته مې زنګ کړو.

خو خاموش وو.

بیګا مې چې زنګ ورته وکړو زنګ ورغی.

زه زیات خوشاله شوم.

موبایل یې واخیست .

خبری مې ورسره وکړی.

هغی ویل چې زما موبایل خراب شوی وو اوس مې هم د ملګری موبایل ته سیمکارت اچولی.

ما ورته ویل ته ولی اوس په دې لاره نه راځی.

هغی ویل درځم لږ مصروفه وم نور نو بیا د پخوا په رقم ځم او راځم.

ماویل سمه ده زړګیه.

زه لاړم بازار ته موبایل مې ورته واخیست.

سبا چې راغله موبایل مې ورکړو.

هغه زیاته خوشاله شوه.

بله ورځ یې ماته زنګ وکړو ویل چې زما د ورور واده دی.

ته او ستا ملګری ټول راشی.

ما مې کومندان ته وویل هغه ویل سمه ده لاړ شی خو فام کوی چې دام یې نه وی درته جوړ کړی.

ماویل نه کومندان صیب زما خپلوان دی.

کومندان ویل سمه ده تاسو لاړ شی زه لږ کار لرم او د شپې د تلاشی او فیرې واله دی پاتی شی.

ما ویل سمه ده .

لس کسان وو لاړو آدرس یې راکړی وو هغه ځای ته ولاړو.

د میلمه خانی دروازه یې خلاصه کړه ویل تاسو دلته انتظار شی موږ درته ډوډی راوړو بیا به واده ته ورشو.

موږ ویل سمه ده.

ماته یې اواز وکړو ویل دلته راشه.

مامې ملګرو ته ویل چې تاسو کینی چې څه وایې خو چې بیرون ته ورغللم.

څلور کسان وو تفانچی ورسره وی ویل شور ونخوری.

ما ټوپک هم په کوټه کې پریینی وو.

د کوټی دروازه یې بنده کړه.

او زما ملګرو ته یې ګرنیټ ور واچول او ټول یې شهیدان کړل.

هغه جنۍ راغله راته یې ویل تا نشم وژلی خو پریښودلی دی شم.

نو یې پیچکاری راکړه.

بیا په ځان نه یم خبر شوی.

خو چې په هوش کې راغلم په زندان کې وم.

زما کومندان هم وو .

هغی راته ویل لعنت دی وی پر تا خپل ملګری دی خرڅ کړل .

زیات ظلم یې راباندی کولو ویل تا د خپل وطن او هرڅه سره خیانت کړی.

**ځینی مینی وی یوو فلان زما وروركه**

**ډیر فام کړه د هر چا سره د مینی اظهار مکړه**

پای

**کم جرائته شاگرد.؟**

یــو هلک ډیر قرار او لایق هلک وو.

ډیره ښه سبق یې زده کیدلو مشکل دا وو چې هغه جرئت نلرلو.

په صنف کې به استاذ درس وویلو هغه به په ښه طریقه هغه درس زده شوو.

خو چې استاذ به پوښتنه وکړه نو هغې جواب ورته نشوو ویلی ځکه کم جرئت وو.

زه هم د هغه سره په یوه صنف کې وم.

بله ورځ مې تری پوښتنه وکړه چې ستا خو درس زده هم وی ولی استاذ ته ځواب نه ورکوی.

هغه ویل چې زما ښه زده کیږی خو چې استاذ رانه پوښتنه وکړی بیا وارخطا شم نو داسی لړزه مې نیسی.

ماویل ته داسی مکوه ته کم جرئت یې یوه یا دری واری به داسی وار خطا شی خو اخیر به سم شی.

هغه ویل ته دخلکو په حال نه یې خبر .

ماویل ولی داخو سم درته وایم.

هغه ویل دا زه چې کم جرئت یم د دې لامل ماته معلوم دی.

ماویل څه لامل یې دی ها.

هغه ویل زه چې ماشوم وم.

نو مور اوپلار مې زه نه چاسره پریښوم او نه یې چرته بولم.

زه به چې دکوم هلک سره چکر یا بل ځای ته تللم نو پلار مې نه پریښوم.

همداسی نوری غلتی یې زما سره کولی.

بیا یې زه په مکتب کې داخل کړم.

خو زه مې پلار دچاسره نه پریښوم.

پلار به مې ویل چې خپل درس وایه د هلکانو سره کار مه لره.

ماهم دپلار خبره ومنله.

اوس نو زما داسی حال شوی.

که هغه وخت مې پلار زه چکر او داسی بل ځای بازار او داسی نور....

ځایونه ته بولی وای نو زما جرئت به زیات وای.

نو خیر وخت تیریده.

زموږ امتحانونه شول.

دې هلک بیخی ښه سوالونه حل کول دا تنها ماته معلوم وو چې تکړه دی خو کم جرئته دی.

دې هلک داسی سوالونه حل کول چې بیخی زیات ښه .

خو دلته چې امتحانونه خلاص شول دا هلک ناکام وو.

زه وچ حیران شوم دې هلک ته مې ویل چې ورشه دمکتب ریس ته ووایه.

هلک ورغی ریس ته یې وویل .

ریس ورته وویل چی لږ وروسته راشه ستا مشکل به حل شی.

د مکتب ریس غږ وکړو چې راشه هغه دشکایت واله راشه.

هلک زه او بی زړه ور روان شوو.

خو راغی ما تری پوښتنه وکړه چې څه یې درته ویل.

هغه ویل چې ته دومره نه یې تکړه تا ټول نقل کړی ځکه ټول کال تا په صنف کې یوه سوال ته هم ځواب ندی ویلی او نه هم په ټول کال کې تختی ته را ولاړ شوی یې .

ماورته ویل نه مې درته ویل چې د استاذ پوښتنو ته جواب وایه

پای

**بې زړه هلک او بې زړه انجلۍ؟**

زما یوه جنۍ خوښه شوه.

هغه وخت زما عمر 16کاله وو.

دا جنۍ زما کلیواله وه.

زموږ کورنه هم نیږدی وو یو بل ته.

دې جنۍ په دیدن زما تنده نه ماتیده.

خو هغې هم ماته ډیر کتل نه پوهیګم چې ولی.

خو زما او دهغی عمر هم زیاتیدو هغی ماته او ما هغی ته صرف کتل هغه هم د لیرى نه .

ځکه د نیږدی مې دومره زړه وربادنى نشوو کولی.

او هغې هم ماته د لیرى کتل بیا به چې ما ورته کتل هغی به سر ښکته کړو.

همدغه شان وخت تیریده.

ما به دځان سره سوچ کولو چې څنګه خبرى ورسره پیل کړم.

ډیر سوچونه به مې وکړل خو نه کیده.

بله ورځ مې داسى فلان جوړ کړو چې هغه دویالی څخه اوبه وړى نو زه به ورته ووایم چې زه یې درسره یوسم.

خو زه هم اوس دې ته انتظار وم چې هغه اوبو ته راشی.

هغه اوبـو ته راغله خو زه ور روان شوم خو چې ور نیږدی شوم.

بیرته خپل وجدان اجازه رانکړه.

ځکه چې که ورته ووایم هغه به وایې چې کوم مطلب لرى.

بیرته هغسی ترى تیر شوم.

ما چې شاته وکتل هغی راپسی راکتل خو چې ما ورته وکتل بیرته یې رانه مخ واړولو.

زه دومره پوه شوم چې هغه هم زما د  دیدن تږی ده.

خو بس زړه مې نشوو کولی.

او هغه هم ښه پوره بې زړه وه ځکه چې د چا به واده وو هر خوشالی به چې وه هغه نه راتله.

مور به یې ویل چې هغه داسی بې زړه ده.

خو ما هم څه نشوو کولی اظهار ډیر سخت وو هیڅ مې زړه ته نه لویده چې زه دې ورته اظهار وکړم.

وخت تیریده.

هغه جنۍ واده شوه.

ماته سخت افسوس راتلو بیخی زیات خفه وم.

زما خو او مور هم ورغلی وو.

چې راغللی نو یې مجلس شروع شوو ښځی خو تاسو ته هم معلومیږی چې د ګفی ډیره هیله لری.

نو زه هلته کوټه کې پروت وم زیات خفه وم چې خور مې راغله پر ما یې غږ وکړو .

زه پاڅیدم راته یې ویل ناځوانه هغه جنۍ ماته یوه خبره وکړه  چې ستا ورور سره ما زیاته مینه کوله آیا تا هم ورسره مینه کوله.

ماویل هوو خوری.

خانو اوس خو څه نکیږی.

ماویل سمه ده خوری هیله کوم ما یوازی پریږده.

خور مې ویل سمه ده.

ما زیات زیات ژړل خو اخیر مې نشی شروع کړی او کلی مې پریښوو ځکه په هغی جنۍ به مې سترګی ولګیدی بیا زما پښو کار پریښوو

□پای□

**د معلم په لور مین هلک؟**

په 1400کال کې چې اوس 1402کال دی.

زه به درته دیو شاګرد کیسه وړاندی کړم.

چې دوه کاله مخکې پیښه شوی.

یو تکړه اولایق شاګرد وو.

دابه هره ورځ تللو مکتب ته.

خو یو استاذ وو چې دې هلک ورسره ډیر کمک کولو.

د استاذ به چې هر کار وو نو دا شاګرد به ورسره وو.

دابه ډیر خوشاله وو.

کله به چې داستاذ سره کور ته تللی وو .

په هغه ورځ بیخی دخوشالی څخه په جامو کې نه ځاییدو.

ماته به ډیر سوالونه پیداکیدل.

چې دا هلک ولی دا رقم دی نه دچا سره ملګرتیا او نه دچاسره په لار یو ځای تلل.

بس یوازی مکتب ته تللو او راتللو.

بله ورځ ما ورته ویل چې احمده ملګرتیا دې هم راسره پریښوه  ولی کومه غلتی وه په ما کې.

هغه راته ویل ډیر په خوشالی کې ویل ګرانه ته زما زړه یې ته زما دسترګو تور یې ګرانه.

راته یې ویل رانه خفه نشی اوس وخت کې زیات مصروف یم.

ماویل سمه ده ګرانه.

هغه ویل هوو چې رانه خفه نشی .

ماویل ولی به خفه کیږم. وخت تیریده.

دا هلک به د  استاذ په کار کې اخته وو.
استاذ به په مکتب کې وو او شاګرد به یې په کار کې اخته وو.
بله ورځ ما دې هلک ته وویل اې احمده ولی لېونی یې.
هغه ویل ولی لېونی یم.
ماویل استاذ خپله وظیفه کوی او تا ورته مکتب پریښی او د هغه کار ورته کوی.
هغه ویل مکتب څه فایده لری.
ماویل احمده مکوه داسی مکتب ډیری فایدی لری.
خو نې منله زه دې ته نه پوهیګم چې دې استاذ په احمد څه کړی وو.
وخت تیریده.
بله ورځ دې هلک ماته ویل علی حیدر صیب زړه مې دردکوی.
ماویل ولی ولی ګرانه.
هغه ویل کیسه داده چې زه د استاذ په لور مین یم اوس نو زه څنګه وکړم .
ماویل ښا دا کیسه وه چې مکتب هرڅه دې پریښی وو او د استاذ خدمت دې کړلو.
هغه ویل علی حیدره په مینه کې داسی شوی یم هیڅ تاوان او فایده نه پیژنم.
ماویل ښه نو  خو رشته ورولیګه .
هغه ویل چې استاذ ویل چې زه مې لور بی سیواده هلک ته نه ورکوم.
ماورته ویل اوس نو زما خبر درته سترګو ته کیږی.
هغه ویل هوو ګرانه بی سیواده هم د استاذ په خدمت کې شوم خو اوس وګوره
هلک بیخی زیات په خرابیدو وو.
لویه خدایه د  دنیا خلک ټول تر مطلب پوری وی
هر سړی دې تر مطلبه پوری یار وی
بــې مطلبه خــلــک نشــته پــه دنیا

پـــای

**د لور سره ظلم؟**

دا کیسه د یوی خواری او غریبی جنۍ ده.

چې یوی جنۍ کیسه کوله.

ویل یې پلار مې ترما ځخه زیات مشر سړی یعنی سپین ږیری ته ورکړم.

خو ماهیڅ هم ونه ویل ځکه ماویل چې پلار دی او پښتو ده.

ډیر وخت وشوو ډیره خفه وم دپلار ځخه ځکه چې ماته یې دومره هم ونه ویل چې لوری دا سړی ستا خوښ دی کنه.

خیر وخت تیریده.

زما خاوند مړ شوو ډیره پسی خفه شوم ځکه زما دوه ماشومان وو د هغې په ډوډی پوری حیرانه وم.

او زما پلار ډیر ظالم وو.

په خپله یې ځلور ودونه یې کړی وو.

وخت تیریده.

یو کال وشوو چې زما پلار زما پوښتنه ونکړه.

چې لوری څه لری څنګه یی.

خو خیر وخت تیریده.

زه ډیره تری خفه یم.

الله پاک دې دارقم پلار هیچا ته هم نه ورکوی.

او دغه رقم پلار به إن شاء الله جحنم ته ځی إن شاء الله

**دیــوو څــو پــیـسو لــپــاره اې ظــالمـــه**

**دلور ژوند او دځان آخرت دې هم خراب کړو**

پــای

**په بدل واده کول؟**

په یوو کلی کې یې یو هلک ته واده کولو.

داهلک مین وو.

پلار یې زوی ته وویل زویا مور درته واده کوو ستا خو به څوک انتخاب کړی نه وی.

زوی یې وویل پلاره بخشه کوه چې ستا د مشرتوب او احترام سره زه ډیر بد ښکارم چې دا خبره کړم.

خو دفلانکی لور مې انتخاب کړی.

پلار یې ویل سمه ده زویا .

پلار او مور یې ولاړل هغې جنۍ کور ته .

دخغې جنۍ پلار هم ومنله واده وشوو په بدلانه.

دې جنۍ چې ورور یې مین وو دپلار څخه یې ګیله وکړه .

چې پلاره دومره پوښتنه خو څوک کوی چې ستا دا ځای خوش دی کنه.

پلاریې په غوصه ورته وویل اې بی حیا اې شرمیدلی .

دې جنۍ په ژړا ورته وویل پلار جانه خو داحمد څخه دې پوښتنه وکړه او له ما څخه نه دا ولی.

پلار یې نور هم غوصه شوو او جنۍ چې نوم یې مرواه وو.

یو کلکه څپړ ووهله جنۍ په ژړا شوه.

وخت تیریده.

واده هم وشوو مرواه هغه هلک ناوی کړه.

او هغه بله انجلۍ احمد ناوی کړه.

د مرواه هم د هغه هلک سره ښه ژوند روان وو.

خو د احمد د هغی جنۍ سره ژوند زیات خراب وو.

وخت تیریده

احمد او دهغی جنی روابط زیات خراب وو.

خو مرواه او د هغه هلک ډیر ښه ژوند وو.

د مرواه یو زوی هم وو.

خو داحمد هیڅ زوی او لور نه وو.

احمد اخیر دې ته اړ شووچې خپله ښځه طلاقه کړی.

بله ورځ یې احمد خپله ښځه طلاقه کړی وه.

مرواه وایې زما وربادندی سخت زړه بد شوو.

خو زما خاوند ماته ویل چې ورور دې زما خو طلاقه کړی زه به تا طلاقه کړم.

ماورته ویل نه داسی مکوه هیله کوم .

زما خاوند ویل ګرانی اوس نو نکیږی د پلار او دمور خبره باید زه ومنم.

ما ورته زیاتی زاری وکړی .

خو هغې ونه منله .

خپل زوی مې په غیږ کې وو هغه مې ښکل کړو او دتل لپاره تری جدا شوم.

علت دا وو چې زما ژوند د بدلانه او زما دپلار دلاسه داسی خراب شوو

اخ اخ اخ

د خپل ژوند د شه کولو لپاره دلور ژوند ورته خراب کړی.

هیڅ نه پوهیګم چی پلار ورته زه وایم او که بل څه

پای

**د مینی پریښودل؟**

یو هلک چې زما لږ خپل هم دی او ملګری هم دی.

دا مین وو داسی مین وو چې خوشالی یې بیخی نه پیژنده.

هروخت خفه هر وخت دغم شعرونه لیکل.

ما به ورته ویل چې هیره یې کړه.

خو هغه ویل نه هیریګی .

او داشعر یې راته وویلو.

**نه هیریګی کلیواله نه خپلیګی کلیواله**

**نــه پوهیګم دا زمـا څنـګه نصیب دی**

ما به هر وخت ویل چې دا مینی مجازی دی دا دوکی دی ولی ځان خرابوی خو نې منله.

خو هلک ورځ تربلی خرابیدو.

او زما نصیحت یې هم نه منلو.

ماویل ښا چې مین یې نو خرابیږی ولی.

راته یې ویل دا یو کال کیږی چې نه مې ده لیدلی او نه ورسره غږیدلی یم نو ته ووایه دنن او دسبا انتظار څومره سخت دی.

ماویل هوو خو ته هسی پکی تللی یې خو هیڅ خبر یې نه منله.

مابه یې ستوری پسی کتلی صرف د غم شعر به پکی لیکلی وو

یو شعر یې دا وو چې

**ګرځمه په شپه او ورځ چې پیدا یې کړم**

**ورکــه ده خـوشــالی او خـندا زمــا**

اوبل يې دا شعر ستوری ورکړی وو

**سختی خوږی خبری مې زړه ته راغلی**

**خو تــه چې نـه یې زه یې چاتـه وکړم**

زما ورباندی زيات زړه بد وو ځکه داهلک هسی لاړو خراب شوو.

وخت تيريده.

بله ورځ مې ستوری وکتله ليکلی وو.

**نــوری میـنـــی تــاوانــی دی اې عـــالـــمـه**

**راشه داسی مینه وکړه چې دیدن دمحمدﷺوی او منزل یې جنتونه**

دا مې چې وکتلو مسيج مې ورته وکړو.

خو هلک ډير خوشاله وو.

ما ويل ولی داسی خوشاله يې .

هغه ويل ما داسی مينه کوله چې د زړه سکون مې پکی دلاسه ورکړی وو.

خو اوس رانه هغه هيره ده اوس داسی مينه کوم چې زړه ته مې سکون راکوی.

دا شعر يې راوليګه

**چې مين د چــا زړګی پــه محمدﷺ وی**

**هغه ډير دی بختور په دنيا او آخرت کې**

پـــای

**د یو هلک دخپلی مینی سره دوکه؟**

دا هلک ډیر ماشوم وو چې یتیم شوی وو.

دهغه هلک روزنه یې خپل ترور کوله.

هلک هم لوی شوو.

دیوی جنۍ زیات زړه ورباندی زیات بدوو.

او دې جنۍ زیات خوښ وو.

خو اخیر هغې جنۍ ورته د مینی اظهار وکړو.

دهلک هم داجنۍ زیاته خوښه شوه.

بس نو مینه یې شروع شوه.

دې هلک په کور کې څوک نلرل.

جنۍ به د هلک کالی ورته مینځل کله کله به یې ډوډی هم ورکوله.

د هلک او د جنۍ مینه ورځ تربلی زیاتیده.

جنۍهلک ته وویل چې ګرانه زما ستا سره پاکه مینه ده هیله کوم چې دوکه راسره ونکړی.

هلک ویل نه ګرانی إن شاء الله دوکه درسره نکړم .

جنۍ ویل سمه ده.

وخت تیریده دا جنۍ په هلک زیاته میئنه شوه.

خو دا هلک داسی لږ اخلاق ښخه پوره نه وو او لږ بی عقل هم وو او دچا په کیسه کې هم نه وو خپله یې منله د بل چانه.

بله ورځ یې د هلک د بلی جنۍ سره ولیدو چې دا جنۍ ډیره بی دینه وه.

دې جنۍ تری پوښتنه وکړه  دا څوک ده.

هلک ویل ته څوک یې چې زما ښخه پوښتنه کوی.

جنۍ ورته ویل ولی ګرانه هیره دې شوم.
هلک بیا ورته وویل هیله کوم زه تاسو نه پیژنم ځان معریفی کړی.
جنۍ په ژړا کې ورته وویل سمه ده چې وخت راشی خپله به دی یاد ته درشم.
جنۍ په غمجن فکر راغله کورته.

د هلک او هغی بلی انجلۍ ښه ساعت تیر وو.
وخت تیریده.
بله ورځ دا هلک د هغې جنۍ سره دوه نور ځوانان ولیدل دا زیات غوصه شوو.
سمدلاسه ورغی ورته یې وویل تاسو څوک یاست.
هغو ورته ویل تاته یې څه.
په همدی وخت کې جنۍ راغله.
دې هلک ورته ویل دا څوک دی.
هغې ورته ویل دا زما یاران دی څلور نور هم لرم.
هلک ویل څه څه .
جنۍ ورته وویل ما اول درته وویل چې زه پاکه مینه نکوم.
هلک زیات خفه شوو.
او دهغې جنۍ سره جنګ وکړو.
وخت تیریده.
دې اصلی مینی ته چې راغی هغه واده شوی وه او له کلی څخه یې کابل ته تللی وو.

پـای

**د ګونګی انجلۍ سره ظلم؟**

یوه انجلۍ چې ماشومه وه.

په خپل کاکا يې زياته ګرانه وه.

بيخی بې اندازی وربانديی ګرانه وه.

هر وخت به يې له بازاره ورته شی راوړل.

هغه لږ لويه شوه خو خبری يې نکولی.

کاکا يې زياتو داکترانو ته بوتله خو هيڅ معلومات يې نه کيدل.

کاکا يې ورته زيات خفه وو.

نو دا انجلۍ يې بوتله مکتب ته.

هلته يې يوه جنۍ ورته ونيوه چې کمک ورسره کوی او هغی جنۍ ته يې زياتی پيسی ورکولی.

يو کال يې مکتب وويلو خو دا ګونګی ډيره تکړه وه ډير ښه درس يې زده کيدو او هغه جنۍ چې روپۍ يې ورکولی هغې هم زيات کمک ورسره کولو.

وخت تيريده.

ګونګی ليک او لوست زده کړل.

کاکا يې ورته بله انجلۍ ونيوه چې هر وخت به د ګونګی سره وه.

هغې جنۍ به دګونګی ليک خلکو ته ويلو .

دا ګونګی زياته خوشاله وه.

ځکه دې ويل چې د ضرورت خبری په ليک سره کولی شم.

خو اضافی بی فايدی خبری نکوم.

او نه رانه په خوله څوک ازار کيږی.

وخت تيريده د ګونګی کاکا وفات شوو.

ګونګې داسې پسې خفه وه چې ځان یې پر ځمکه وهلو داسې لیونی شوه.
وخت تیریده دګونګی د لیک ویونکی تری لاړه ځکه د هغی روپی چا نه ورکولی.
دا ګونګی ډیره د مشکل سره مخ شوه.
هیچا ورسره واده نکولو .
او پلار یې ډیر ظالم سړی وو بل څوک یې وو نه.
ګونګی ورځ تر بلی په خرابیدو وه.
اخیر هغه ګونګی په سترګو ړنده شوه

**نائخوانه میرمن؟**

د 21 کالو په عمر مې واده وکړو.
بیا لاړم مسافری ته چې ولور وګتم.
ولور مې هم خلاص کړو راغلم کورته زما د واده مراسم شروع وو.
زه هم زیات خوشاله وم.
د جمعی په ورځ مو د واده نیټه وټاکه.
جمعه مبارکه راغله.
زما ملګرو راته موټر ګلپوش کړو.
ډوډی مو وخوړه روان شوو په ناوی پسی.
ناوی مو راوړه وخت تیریده.
د هغې او زما ډیر ښه ژوند وو.
زما یوه لور پیدا شوه.
خو ورځ په ورځ زما دکور حال خرابیدو.
ځکه زما ورور ښځه او زما میرمن به هره ورځ جنګ او جنجالونه وو.

او زه د جنجال سره زيات تنګيدم خو بيخی سره ګذاره نکوله.

ببا له ورور څخه جدا شوم.

بيا ښه وو کورنی مشکل حل شول.

وخت تيريده زما د واده اته کاله وشول او زما څلور لورانی وی.

زامن مې نه وو.

خو سخت غربت او بی وسی راباندی راغله.

هيڅ کار نه پيداکيدو زيات پسی وګرځيدم.

اخير يې نور غلا ته مجبور کړی وم.

بيا ښه وو د کليوال څخه مې قرض روپی واخيستی.

کور ته مې سودا راوړه.

وخت تيريده.

بله ورځ مې ميرمن راته ويل چې ما او لورانو ته دې کالی وکړه.

ماورته ويل چې سمه ده ګرانی خو اوس خو داسی حال دی ته يې هم وينی کار نشته روپی نشته.

خو خفې راته پيغورونه راکول.

ما زياته حوصله کړه.

خو هغې به هره ورځ ماته پيغور راکولو.

بله ورځ بيا سودا خلاصه شوه.

نو زما لورانی او زه يې پريښوم.

راته يې وويل:
چې تر څو دې پوره سودا نه وی راوړی په ما پسی رانشی .

لاړه د پلار کره يې علت د غربت دلاس

پای